

# د سولې سفر

**شپږمه کېسه**

**دوهم چاپ**

# د کور پریښودل

**لیکونکي:**

ماری- جو لند
داکتر جوانا سناتا باربارا
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکۍ : ل. غفوری*

***ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل***


موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

## کيسې او د ښوونکي لارښود په لاندې ويب سايتونو کې شته دئ:

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې کیسی کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمویل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*‘building a civil society through education’*

د سولې سفر

شپږمه کېسه

**دوهم چاپ**

# د کور پرېښودل


لیکونکي:

ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند



دیزاین:  یار محمد تره کي

انځورکونکۍ :  ل. غفوری

اصلاح کونکي :  کیون آرترلند  او  ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا  او ډاکتر گرایم مک کوین

ژباړونکي :  ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل -  موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ٥ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱٥ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنی انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنئ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنی کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترور‌او د یونس کاکا ځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکي هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکيسې لنډيز:

جميله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په يوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه کورني اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلي وي اوهغه يي لا هېرې شوې نه وې چې يوبل مصيبت ورباندې راغی . يونس کا کا چې دکښت په ځمکه کې يي کار کولو،يوماين پرې والوت اوهغه يي وواژه اوپلار يي ،ميرزا، يوه پښه له لاسه ورکړه .

**دجميلې دسوغات په کيسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې ديوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشويش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران يوملګري ته کلک ګذاروکړی دئ اودهغه په شخصيت اوسلوک يي بدلون راوستی دی . دجميلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په يوه ځانګړې طريقه دهغې درملنه وکړي په دې کيسه کې ځاي شويدي .
د **بی بي جان د هوښياری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د يوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشويش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د يوملګري روغتيا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصيت او سلوک کې يې بدلون راوستی دئ ، د جميلې د ويرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په يوه ځانګړی طريقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .
**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجميلې ددردونو اورنځونو څخه حکايت کوي . هغه ماين دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماينوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي .
بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جميلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخيستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې يوآغېزمنه لارپيداکړي چې دهغې په وسيله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته ديونس کا کا دمړينې له امله پيداشوی دئ په خپله ژبه ووايي .
**دميرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجميلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يي دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريي اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاريي داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يې زده

وي . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي .

**دیونس دسندرې په کېسه کې** احمد اوجميله ديونس دځواني کونډې ، فاطمې ، غم اوخپګان احساسوي او کوښښ کوي چې هغه بېرته خوشحاله کړي . بي بي جان هم په دې موضوع پوهېږي ؛ هغه خپلې کورنۍ ته دځينو لارو وړانديز کوي ؛ چې سره راټول شي اوهغه ښې خاطرې چې له يونس څخه ئې لري ؛ دسندروپه ويلوسره ولمانځي .

**د کور پريښودلو په کېسه کې** ، کله چې د شپې له خوا ددوی کلی په ګوليو وويشتل شوددوی کورنۍ له يو وېرونکي حالت سره مخ شوه او دې ته اړ شول چې خپل ډېر ګران شی چې هغه ددوی کور و پرېږدي . ددوی د کورنۍ هر غړي شديد رواني ګذار خوري خو په پای کې پوهېږي چې ښه داده چې له ميراني څخه کاروا‌خلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**ددرملنې عنصرونه:**

**تصويرونه او روغتيا بخښونکی نخښې:** هيله ، امنيت ، شوخي او محبت

**دسوله ايزه کړووړو لپاره لارښوونې:**

بدني هوسانيه ، رهبري ، دعا، مرسته ، عاطفي ملاتړ ، مهرباني او شفقت ، څارنه او ساتنه

**ستونزې:**

روحي ګذارونه چې له جنګ څخه را ولاړ شوي ، له تېپي کيدلو څخه ويره، له مرګ څخه ويره ، ويجاړتيا ، غم ، په ورځنی ژوند کې له بدلون څخه ويره . د کور او فرهنګي ميراثونو د لاسه ورکولو ويره ، د هويت او شهرت له لاسه ورکول ، له راتلونکې څخه ويره او شرميدل

**ددرملنې لارې :**

رهبري ، د کورنۍ يو والئ ، په ځيرسره او يو زړه غوږ نيول ، بدني آرامتيا او ملاتړ ، ډاډ ، د پخو انيو ارزښتونو او خاطرو ساتنه

# د کور پریښودل



هر ځای کې چوپه چوپتیا وه . د
لمر زرینې وړانگې وروورو د
اسمان له ختیځو څنډو څخه
راختلې. د دوړو اولوخړو پورته
کیدل او د لمر شغلو د اوږدې
شپې تیاره په رڼا بدلوله . داسې
چوپه چوپتیا خپره وه لکه په ټول
کلي کې چې څوک ژوندئ نه
اوسي. په دې سهار کې نه د
مرغانو آوزونه اوریدل کیدل اونه
له کلي څخه بل کوم آواز پورته
کیدلو. ټوله شپه بمبارو او گولۍ
وربدې . د واړو ماشومان یو د بل
په غیږ کې له مور او انا سره
ویده وو . وېرې او ژړا ډیر
ستومانه کړي وو. پلارئې میرزا
له کړکۍ څخه بهرته کتل .



میرزا خپل زوی ،عبدالله، ته وویل : " لاړشه ټول کوروګوره ، حویلی ته ننوزه له کړکیوڅخه د ګاونډیانو کورونه وګوره ، خو ټیټ ، ټیټ او ورووړو لاړشې ، چې څوک ونه پوهیږی ، ژرشه!"

میرزا د خپل زوی عبدالله په اوږو لاس کېښود او په ډیر ځېر ئې ورته وکتل وئې ویل : "ځویه پام کوه !"

عبدالله له وره څخه را بهر شو ، ټول چپ او غلي وو. دکور په دې چوپه چوپتیا کې یوائې د غلام کاکاد تسبو ټک ، ټک اوریدل کیده . د غلام کاکا دعاګانو د ټولو زړونو ته ، چې د عبدالله د بیرته راتلو په انتظار وو، تسل او ډاډورکاو.



کله چې عبدالله بیرته راغئ ، رنګ ئې سپین سپځیلی تښتیدلئ و. له ژبې نه ئې څیرې ،هغه لیدلئ حال ښه بیانولو .هغه خپلې کوچنۍ خور او کوچني ورور ته وروکتل ، نه ئې غوښتل چې هغوی دې لاپسې وویروي وئې ویل: "زمونږ په کور ډیرې ګولی نه دي لګیلدلي ، یواځې زمونږ د کور سهیلي دیوال لویدلئ دئ ، خو ځارویوته په کې زیان نه دئ رسیدلئ . "

د حلیمې سترګی چې له ویرې سپینې راوتلې وي پوښتنه وکړه "او د کلي د نورکورونو څه حال دئ "؟

عبدالله په ډیرې خواشینې زړه ځواب ورکړ :" وبخښه مورې ! لوګې او دوړې زیاتې وي نو ومې نشو کړای چې هر څه سم ووینم. "

میرزا وویل : "مونږ باید له دې

ځاي څخه وکوچیږو ، مونږ باید همدا

نن ولاړ شو، همدغه اوس ، که تر

شپې پورې پاتې شو ، جنگ به لا

پسې زور واخلی ، هغه وخت به

دتښتې لار هم پیدانکړو. "

جمیله چې د پښو په سر ناسته وه

وویل :"نه ،زه نه غواړم چې له دې

ځایه څخه ولاړ شم ، نه غواړم

،پلارجانه لطفاً پریږده چې همدلته

پاتې شو ، لطفاً! مونږ همدلته هوسایو

. هغوی نن شپه په نورو ځایونه کې

جنگ کوي . پلارجانه لطفاً ! "

حلمیې خپله لور په غیږ کې ونیوله اووئې ویل : " جمیلې ، گرانې غلې شه ، د پلار خبرو ته دې غوږ ونیسه . هغه رښتیا وایي مونږ د علی کاکا او دعایشې کورته چې په ښار کې دئ ورځو. مونږ به هلته خوندې و اوسو . جمیلې د خپلې مور په غیږ کې ژړل ..



غلام کاکا وویل :" حلیمې سمه ده . "او میرزا ته ئې وویل : " میرزا،زمونږ کورنی باید همدا نن

ورځ دا ځای خوشې کړو ډیروخت نه لرو . انتظار مه کوئ! " خواشیني غلام کاکا خپل

سرته ټکان ورکړ او وئې ویل:" مانږدې ٦٠ کاله دلته ژوند کړئ دئ.ددې لپاره چې دلته

هوسا او محفوظ پاتې شم ما په تیر جنگ کی دلته یواځی دعاگانې کولې او دعاگانې می

ویلې .

مونږ نیکمرغه یو چې تر نن پوری ژوندي پاتې شوي یو . دا یو لامل لري چې مونږ له

میصیبت څخه خوندي پاتې شوي یو. فاطمې ، مونږ باید له همدې وخت څخه چې لاس ته

راغلئ دئ گټه واخلو. بیا ئې خپل مخ ځواني نگور ته وروارولواو وئې ویل :"مهرباني

وکړه د سفر لپاره خواړه چمتوکړو . "

فاطمه غلې وه اوله ځایه نه خوځیدله .



حليمې غږ کړ :"

فاطمې چيغه کړه :"زه نه درومم ، نه غواړم چې دا ځای پرېږدم ، په دې کور کې د يونس ټولې خاطرې شتون لري . دا هغه ځای دئ چې يونس په کې ژوند وکړ اوله نړۍ څخه ولاړ . که دا ځای پرېږدم ،ويرېږم چې هغه به مې له هيره ووځي. " دائې وويل او په ځمکه راولويده او وئې ژړل .

عبدالله په لوړ آواز وويل:"تاسوټول خپله ژړا بس کړئ . دکلي ډيرئ کورونه وران شوي دي . ايا غواړئ چې همدلته واوسئ او مړه شئ يا له دې ځای څخه کوچ کوئ چې ژوندې پاتې شئ ؟"


عبدالله کمپلې او خپلې جامې راغونډې کړې او وئې ويل: "زه خوځم ستاسو خپل زړه "



حلیمې چې په بیړه او چټکۍ د سفر اړین شیان راټولول وویل :" فاطمې، ته ځې !؟ لاړشه خواړه تیار کړه ."

میرزا عبدالله ته امرورکړ:لاړشه خره راوړه."





حلیمې له جمیلې او احمد سره د هغو شیانو په راغونډولو کې چې دوی راټولولئ شول مرسته وکړه . میرزا او غلام کاکا په دې خبرې کولې چې دوی د تللو لپاره یوه خوندي لاره پیداکړی . بي بي جان عکسونه له دیوالونو څخه راکوزکړل او په ځمکه ئې کتار کیښودل . بیا کښیناسته او په پټه ئې وژړل . ټول دومره بوخت ووچې هیچا ئې ژړا ونه لیدل .



حليمې او عبدالله کالي په خره باندې بار کړل او احمد ئې د بارپه سرباندې کينولو . احمد ډير ستړی شوی او ډار شوی وو او دخره له سپرلۍ څخه ئې هيڅ خوند نه اخيستلو احمد خپل سرپه بار کېښود او خوب يووړ. لمر د غونډيو له ختيځوځنډو څخه په راختوو .

راغوند شول فاطمه د دروازې څنګ ته ولاړه د څودقيقو په تيريدو سره ټول د دروازې مخې ته وه او پښو ئې د کور پريښودلو توان نه درلودل . جميله وپوهيدله چې بايد له خپلې ترور سره



مرسته وکړې ترڅو هغه له خپلې کورنۍ سره يوځای په سفر روانه شي جميلې فاطمه له لاسه ونيوله له هغې نه هيله وکړه وئې ويل :

"فاطمې ترور ! ته بايد له مونږ سره ولاړه شې . که ته له مونږ سره لاړه نه شې له ماسره به څوک په ليک اولوست کې مرسته وکړي ؟

" تا وويل چې زه اوس د پخوا په پرتله ښه شوي يم ماته به څوک سندرې ووائې او څوک به له ماسره د باغ په کارونو کې مرسته وکړي ؟ جميلې يو نا څاپه په ژړا پيل وکړاو وئې ويل :" اوه ! زما باغ ! زه څرنګه کولۍ شم چې باغ پريږدم ؟"





فاطمې ، ماشومه اومهربانه جميله په غيږ
کې ونيوله اووئې ويل : ″ داسې ښکاري
مونږ بايد هغه شيان چې مونږ ئې ساتنه
کوله او له هغو سره مومينه درلود ه بايد
شاه ته پريږدو . يوائې دومره کولئ شم
چې خپلې خاطرې له ځان سره يوسم . له
تاسره ژمنه کوم چې په ښار کې به درته د
بل ډول سبو او ګلانو تخمونه هم پيداکړم ،
کله چې بيرته خپلې مېنې ته راستانه شو بيا
به ئې وکرو او باغ به پرې ښکلی کړو.″

جميلې او فاطمې يو بل په غيږ کې ونېول
او اوښکې ئې توې کړې .

ميرزا چيغه کړه : ″ مونږ دې کارونو ته
نور وخت نه لرو! مونږ بايد د شپې له
تيارو څخه مخکې لرې ځايونوته سفر
وکړو . مونږ نه شو کولئ چې په عمومی
سرک باندې لاړشو . زه ښائي ونشم کړئ
چې د چکسونو په مرسته ډيره لار ووهم .
نوراځئ چې وخوځيږو .″



میرزا لومړئ خپلی پښې او بیا ئې خپل زوی ته چې په خره باندې ویده ووکتل په داسی حال کې چې د شرمندگی احساس ئې وکړ وئې ویل : ″ زه ښائې د لارې په اوږدوکې دااړتیا پیداکړم چې په خره باندې سورشم. ″

بیائې سرته د ناهیلی تکان ورکړ .

حلمیې خپل خاوند ته ډاډ ورکړ وئې ویل :″ کله چې احمد راویښ شو هغه به مونږ سره پلئ لاړ شي . نو ته به په خره باندې کښینې راځه چې اوس لاړ شو ! زرشه ! یوه گړی صبروکړئ ! بي بي جان چیرته ده ؟″



ټول فاميل بيرته کورته ننوت هلته ئې وليدل چې بي بي جان لا تر اوسه هم په ځمکه ناسته او ژاړي او عکسونه ئي شاه او خواته تيت پراته دي . هغوی هغه وخت ډير حيران شول چې وئي ليدل هغه پياوړی ، هوښياره او مهربانه بي بي په ځمکه ناسته ده او ژاړي .

غلام کاکا په ډيره نرمی وويل : " بي بي جان ! مونږ بايد حتماً لاړشو" د بي بي جان ستونی چې کېښې نيولئ و وويل :" زه نشم کولئ چې خپل کور پريږدم ، دلته مې له ٥٠ کالو څخه زيات عمر تېرکړی دئ . ټول اولادونه مې په همدې ځای کې نړئ ته راوړي دي . " بيا بي بي جان په داسی حال کې چې د يونس عکس ئې په لاس کې نيولی و وويل :" ما مې خپل زوی همدلته ښخ کړئ دئ . نشم کولي چې لاړه شم او خپل کور غلو او داړه مارانو ته پريږدم ." عکسونه ئې سينې ته نيولي وو او ژړل ئې.

حلمي وويل :" زه ټول عکسونه او هغه شيان چې غواړم وساتل شي د ځارويو په غوجل کې تر بوسولاندې ايږدم . هلته ئې هيڅوک پيداکولئ نه شي . بي بي دا عکسونه په بکس کې د ننه کيږده . دايومحفوظ ځای دی . بيائې فاطمې ته وويل :" فاطمې! ته هم غواړی چې د واده عکسونه دې همدلته کيږدې ؟"

فاطمې او بي بي جان هرهغه شئ چې کېدلی شو د بکس دننه ئې کيښود. عبدالله بکس اوچت کړ غوښتل ئې چې په تاکاو کې ئې پټ کړي .



غلام کاکا بي بي جان ته ډاډ ورکړ وئې ویل:" کله چې جنگ پای ته ورسیږي مونږ ژر بیرته راستنیږو . خو تاسو باید له خپل فامیل سره یوځای وخوځیږئ . تاسو نشئ کولئ چې دلته یواځې پاتې شئ ، ټول خلک له کلي څخه وځي . "

جمیلې هم له بي بي حان څخه هیله وکړه او وئې ویل :"بي بي جان مهرباني وکړه دلته مه پاتې کیږه . مونږ ټول تاته اړیو ، زه هم تاته اړتیا لرم . "


میرزا بي بي جان له مټ څخه ونیوله او له هغې څخه ئې وغوښتل چې ددروازې لورته لاړه شي او وئې ویل :" مورې ! بالاخره ته اړکیږې چې ولاړه شې نو همدا اوس راځه چې لاړشو . اوس د خبرو وخت نه دئ زمونږ وخت له لاسه وځي .

بي بي جان ددروازې چوکات کلک ونیو وئي ویل : " نه ! زه نه ځم ! خپل کورنه پریږدم !" په ځیره کې ئي ویره څرګندیدله . بي بي جان وویل : " که څه پېښه وشي زه ډاریږم تا سو به له ما څخه ډیر چټک لاړشئ ، زما پښې کمزوري دي اوپه چټکۍ سره تللئ نشم . "

حلمیې ، بي بي جان له بل مټ څخه ونیوله او وئې ویل :" مونږ ستا قوي زړه ته اړتیا لرو او مونږ له تاسره مرسته کوو ، کله چې میرزا په خپلو پښو ځی ته هغه وخت په خره سوره شه .

حلمیې خپلو څنګو ته وکتل وئې ویل : "خرچیرته دئ ؟ " اوه ، احمد پرې سور دئ !

ټول راوګرځیدل چې خرپیداکړي ، وئې لیدل چې خرپه سرک روان دئ او احمد پري تراوسه پورې ویده دئ . عبدالله ، فاطمه او حلیمې مندې کړه چې هغه راونیسي .



غلام کاکا په خندا وویل :" بي بي خروګوره ،له دې څخه پخوا که هغه به دې په لرګی هم وواهه یو ګام هم مخ ته نه تللو . خو اوس هغه هم هوښیار شوی دئ او غواړي چې له دې ځای څخه وتښتي .
"

جمیلې د انا لاس ونیو وئې ویل :" بي بي جان ستا په یاد دي چې یو وخت دې ماته ویلي وو که هروخت په خوب کې وډاره شوې زما لاس ونیسه او راته ووایه چې په ماګرانه ئي بیا به هر څه ښه شي .
که له مونږ سره ولاړه نه شي نو څرنګه کولئ شي چې په خپله دغه ژمنه وفا وکړې ؟ بي بي جان! په ماګرانه ئې . ټول شیان به ښه شي ، راځه چې ولاړشو . "
همغسی چې جمیلې خبرې کولې ، بي بي جان ورو ورولـه کوټې راووتله او د خپل خاوند او زوی سره د انګړد دروازی په لورې رهي شوه جمیلې په ورو د بي بي لاس ټینګ کړ او وئې ویل :"ټول شیان به ډیر ښه شي ."

*******